استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی

۲۴ جون، ۲۰۲۶

# د وطن یاد د بحیرهٔ عرب پر غاړه



سین نری نری ځپې وهي، لمر هم پر لوېدو دئ، وړانګي يې پر اوبو لوېږي او داسي ښکارېږي، لکه ويلي طلا چي په کټوري کي وي.

موږ په کښتۍ کي کښېناستو، دقيقه په دقيقه له ساحله ليري کېږو. دبحر سوړ وږم (نسيم) په دې وخت کي حقيقتاً جان بخشا دئ. د انسان حواس ويښوي، روح ته يو مخصوص اهتزاز بخښي، لمر هم لکه نوې پېغله شرمېږي، غواړي طلايي مخ پوڼۍ (نقاب) د بحر داوبو پر مخ وغوړوي.

چي سترګي مو اړولې لمر په اوبو ننووت، دنيا يې تاريکه پرېښووه، فقط بقايا د طلا د ځپرکو يې پر اُفق وپاشل...

اوه! څه ښه منظره ده! سربېره شينکی آسمان، لاندي شين کوړم بحر، په منځ کي طلايي اُفق جلوه کوي! د بحر ځپې کښتۍ ته حرکت ورکوي، غواړي موږ له دې زېبا او روح پروره منظرې څخه محروم کي.

زموږ د ځنګه نوري کښتۍ هم تګ کوي، کله کله دومره رانژدې سي چي د

دې کښتۍ سره ونښلي او يوه خوفناکه صدمه راورسوي.

ما فقط د طبيعت د ښايست او ښکلا زړه وړونکو مناظرو د قدرت سيل کاوه، دې جلوه ګاه ته د بهجت او ښکلا ډوب تللی وم، په ژوره فلسفه کې د خلقت او قدرت مې فکر واهه! ناببره يوه دلکش او نري او زړه ښوروونکي آواز دې سکوت او حيرت ته خاتمه ورکړه، که مې کتل په مخامخ کښتۍ کې يوه سره کميسې نجلۍ پخپله ژبه دا ترانه وايي:

| | | |
|---|---|---|
| وطنه جار دې سمه<br>ترتا واري دې سمه | | بيا په سل وار دې سمه<br>او قرباني دې سمه |

ته خو مې خپل وطن يې
ته خو مې ګل وطـــن يې

| | | |
|---|---|---|
| وطنه زما وطنه<br>ته خو زما يې وطن | | زما د بابا وطنه<br>نه د بل چا يې وطن |

خود به دې ښه ســـــاتمه
که په دې لار کې مرمه

دا دلکشه نارې يې لا نه وې تمامې کړې، چې ما ته يې تکان راکړ، د وطن په ياد کې ولوېدم، خپل کور، کلی، خپل وطن، خپل د ټاټوبي روښانه فضا، درخشان لمر، لوړ غرونه، پاکه او صافه ځمکه په ياد راغله!

هوکې! "هر چا ته خپل وطن کشمير دئ". اوه! وطنه ... خپل وطنه ... ګل وطنه!

ته مې نه هېرېږې، ستا روڼه فضا، پاکه خاوره، متين غرونه، خوږه رودونه، شنه ډنډونه، زرغونه دښتونه، ايا بل چېرې به پيدا سي؟ ستا يوه لوېشت ځمکه په ګرده دنيا ارزي.

حق ناشناسه به تا هېروي، بې درده او بې احساسه به تا هېروي! يا، ته خو د چا نه هېرېږې.

هوکې! نه هېرېږې! ژوندی او ښاد اوسې ګران وطنه!

وطنه! جاذبه د محبت او کشش دې څومره قوي ده! مينه دې پر روح او احساساتو د انسان څومره ټينګه حکمراني کوي! هوکې! ستا مينه او محبت فطري دي، زه څو زره ميله ليرې دا دئ په اوبو کې ګرځم اما ته څومره لوی تسلط لرې پر روح د انسان؟ څومره عواطف او مشاعر د انسان په ځان پورې نښلوې!

آيا دلته مې هم په سوز کې د ياد خپل اچوې؟

هو! ته کله هېرېږې! هر څومره چي انسان ستا څخه لیري ولاړ سي، بیا یې هم روح ستا په فضا کي پرواز کوي او ستا د یاد په خوند او حظ ژوندی وي.

نو زه هم تا نه هېروم! ستا مهیب او عظیم الشان غرونه زما سترګو ته جګ ولاړ دي.

| | | |
|---|---|---|
| وطنه نه هېرېږې<br>شکر چي تا لرمه | | خورا مي ډېر یادېږې<br>زېبا ماوا لرمه |

خدای دي ژوندی ولره
هـــم روغ رمی ولـــــــره

| | | |
|---|---|---|
| له تا که سمه جلا<br>فراق دي څوک<br>ګلوي | | روح په عذاب وي زما<br>جدايي څوک قبلوي |

آخـــــــــر به تا ته راځـــي
که هر څو، څوک نه راځي

| | | |
|---|---|---|
| مور خو په تا نازېږو<br>منشاء مو ته یې<br>لومړی | | ستا په نامه يادېږو<br>مدفن مو ته یې اوستری |

خدای دي بې ما مه کوه
یا ما بې تا مــــــه کـــوه

ژوندی او ودان اوسې خوږ وطنه!

زه په دغو فکرو کي ډوم وم، چي بېړی بیرته له سین څخه ساحل ته راغله، مور هم غاړي ته راپوري وتو، شپه وه، د سپوږمۍ وړانګو بحر برېښناوه...

(له يادداښتونو د سندهـ د سفر ۱۳۰۹ ش)

salamwatanam@gmail.com